# شیخه

شیخه ځه پخپله مخه نصیحت مکوه ما ته
هغه تا چي څه کرلي ګټه نه لری هیچا ته
ته د تیکی د دوری د افکا رو ثنا خوان یی
ستا کړنی او اعمال رسوی نقص بینوا ته
ته د نوي باورونو غټ مانع اولوی دښمن یي
هسی ګیریی په اوها موچی ښکا ره یی اوس دنیا ته
ته لا تر اوسه د پیمخوله جلوی لری ډیر کرکه
که خوبا ن په مخ دی راشي اړوی سرخپل شا ته
ستاایما ن هسی مجهول دی چي ته هم هیڅ نه پوهیږی
هسی ناست یی په تورتم کی چی هیڅ نه ګوری رڼا ته
ته د نوی نهضتونو د کاروان د لاری خنډ یی
بی ایمان او ذلیل سر دی ټیټ هر نا رواته
نه غولیږمه زه «مل» شیخه ستا په سپین جا مو
ته جا سوس یی د پردو مختورن یی اوس هرچا ته
**

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۶-۵-۵